مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد


خبرونه او ژباړه


د محمد معصوم هوتک


۲۰۲۳/۱۰/۲۹

# مولانا عبدالرحیم پوپلزی پېښوری

## د اماني خوځښت سرتېری مدافع او د هغه کورنی[1]

### لومړی برخه

**یادونه : د سږ کال د اګست په میاشت کې له جناب حفیظ الله خان کرزي سره د خبرو په ترځ کې د مولانا عبدالرحیم پوپلزي یادونه راغله. جناب کرزي صاحب د نوموړي مولانا صاحب په باب د یوې لیکنې اړتیا ته متوجه کړم او ما هم ورسره تایید کړه. په دا سبا ئې د یولړ ماخذو لینکونه هم راولیږله. دا اوسنی لیکنه د دوی د یادوني او همکاری محصول ده. زه ئې له همکاری ډېر ممنون یم.**

م. هوتک

په پېښور کي د مغولي زماني څلور مشهور جوماتونه (مسجدونه) سته چي د هغو د ودانوونکو په نومو تر اوسه لا هم ولاړ دي. یو ئې د مهابت خان جومات، بل ئې د قاسم علیخان جومات، دریم ئې د ګنج علیخان جومات او څلرم ئې د دلاورخان جومات دئ. دا څلور سره مسجدونه د پېښورپه قصه خوانۍ کي واقع دي[2]. ویل کېږي چي په قصه خوانۍ کي پخوا له باړې سیند[3] څخه یوه را جلا سوې ناله تېرېدله او مهابت خان جومات او قاسم علیخان جومات ئې پر لویدیځه غاړه او ګنج علیخان او دلاور خان جوماتونه ئې پر ختیځه څنډه پراته ول. د باړې سیند خپل مسیر د زماني په اوږدو کي اړولی دئ او اوس په قصه خوانۍ کي نه تېرېږي. د مهابت خان جومات د شاهجهان او اورنګزېب په وختو کي د کابل او پېښور د ګورنر نواب مهابت خان کمبوه ( ۱۶۳۴ع مړ ) په اراده ودان سوی دئ او د ودانولو چاري ئې په ۱۶۳۰ع کال پیل او تر بشپړېدو پوري ئې څو لسیزي نیولي دي. وایي چي مهابت خان ددې جومات ودانی د لاهور د شاهي مسجد په شان نقشه کړې وه. صفیه حلیم د پېښور پوهنتون د ارکیالوجی څانګي د پروفیسور ډاکټر ابراهیم شاه له خولې کښلي دي چي قاسم علیخان د اورنګزېب یو ټیټ رتبه افسر"واقعه نویس" او دلاور خان روهیله د کابل مغولي منصبدار وو. دلاور خان جومات ئې په ۱۶۵۸ع کال کي ودان سوی بللی دئ.ګنج علیخان هم د شاهجهان او اورنګزېب د عصر منصبدار وو.[4] په دې ډول دا څلور سره جوماتونه د اوولسمي عیسوي پېړۍ را پاته سوي ودانۍ دي. په ۱۸۲۳ع کال چي سیکانو پر پېښور باندي خپله واکمني ټینګه کړه، دغه جوماتونه او ورسره نوري ودانۍ ئې ونړولې خو د پېښور د واکمن یارمحمد خان محمدزي او سیکانو تر تړون وروسته څلور سره مسجدونه بیرته ترمیم او ودان سول.

د قاسم علیخان جومات د سرپرستۍ او خطابت چاري له زیات و کم یوې نیمي پېړۍ راهیسي د یوې پوپلزۍ کورنۍ پر غاړه پرتې دي چي تر ننه پوري لا هم دغه وظیفه پر مخ بیایی. دا کورنۍ د متحد هندوستان او په تېره بیا د پښتنو په ټولنیزو او سیاسي مذهبي خوځښتونو کي ډېره فعاله پاته سوې ده. کله چي په برتانوي هند کي د انګرېزانو پر ضد د ۱۸۵۷ع کال تر قیام وروسته د نیمي وچي مسلمانانو او په تېره بیا د شاولي الله دهلویرح(۱۱۱۴ ـ ۱۱۷۶هـ ق) پیروانو د دیوبند مدرسې د تاسیس له لاري په مسلمانانو کي د تعلیم خپرولو او د هغوی د پوهولو سوله ییزخوځښت را منځ ته کړ. د پښتنو په سیمه کي ددغه خوځښت په خپرولو کي د پېښور دغي پوپلزۍ کورنۍ ډېر اغېزمن رول ولوباوه دا ځکه چي ددې کورنۍ مشرانوعلماوو له ډېر پخوا څخه په سیمه کي مذهبي رسوخ لاره او خلکو ورته زیات درناوی درلود. په دوی کي درو تنو مولانا عبدالحکیم پوپلزي او زامنو ئې مولانا عبدالرحیم پوپلزي او مولانا عبدالقیوم پوپلزي د برتانوي استعمار پر ضد د پښتنو د نورو اجتماعي ـ سیاسي سازمانونو لکه خدای خدمتګارانو او




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

نورو پر څنګ اساسي نقش درلود. په دې حاضره لیکنه کې زه غواړم د خپلو موجودو مدارکو په محدوده کې دغه کورنۍ لوستونکو ته ور وپیژنم.

ددې کورنۍ په باب محلي روایت وایي چې مشر نیکه ئې د افغانستان له غزنې څخه پېښور ته تللی او هورې میشت سوی دئ. ددې کورنۍ مشر نیکه قاضي عبدالرحیم خان په پېښور کې د قاضي القضاة منصب درلود( ۱۸۲۳ع). دغه وخت د پېښور "فرمانروا" سردار محمد عظیم خان وو5. البته باید وویل سي چې زموږ تر بحث لاندې مولانا عبدالرحیم پوپلزی د همدغه قاضي عبدالرحیم خان کړوسی دئ چې وروسته به پر وړغېږو. د قاضي عبدالرحیم خان شجرة النسب ئې په " روحانیت اور عوامی تحریک" نومی کتاب کې چې په اردو ژبه د ډاکټر عبدالجلیل پوپلزي6 په قلم لیکل سوی دئ، په دې ډول ثبت کړی ده:

قاضي عبدالرحیم بن حافظ احمد خان بن حاجی عبدالرحمان خان بن مومن خان بن غازی خان بن صحبت خان بن اسماعیل خان بن بهادر خان بن سردار خان (صدو) بن بامی بن پوپل7.

د قاضي عبدالرحیم خان زوی مولانا محمد امین پوپلزی نومېد8. دی یو درویش صفته زاهد او د قران حافظ متقي وو. د درس او تدریس سلسله ئې هم جاري ساتلې وه او شعر ئې هم وایه. وفات ئې د ۱۳۰۹هـ ق کال د ربیع الاول پر ۲۱مه پېښ او په پېښور کې د رحمان بابا په هدیره کې ښخ دئ. محمد اسماعیل خاکی ئې په فارسي ژبه مرثیه ویلې ده چې مطلع ئې داسې ده:

قیامت اگر نیست خود چیست آه
که رفت از جهان آن فضیلت پناه

په دې مرثیه کې ئې د وفات نېټه داسې راوړې ده:

به بیست و یکم از ربیع نخست
ازین کوه غم کاست خلقش چو کاه

به یکشنبه شد گر بنای جهان
خلافش درین روز آمد نگاه

پی سال رحلت بُدم در تلاش
که خورده زِ هاتف به گوشم یگاه

بینداز تاج سرور و طرب
زمانش که گفتی "فضیلت پناه"9

په دې نېټه کې تاریخي ماده " فضیلت پناه" ده چې ابجدي ارزښت ئې (۱۳۷۸) کېږي. له دې مادې څخه چې د " سرور" او " طرب" د تاج یعني ( س، ط) ابجدي قیمت ( ۶۰ + ۹= ۶۹) د " بینداز" په قرینه منفي سي (۱۳۰۹) پاتېږي چې دا په قمري حساب د مولانا محمد امین پوپلزي د وفات کال دئ.

مولانا محمد امین پوپلزي دوه ودونه کړي ول چې له هغو څخه ئې درې زامن عبدالحمید ( وفات ۱۳۲۲هـ ق شوال)، عبدالکریم، عبدالحکیم ( مفتي) پاته سول.

مولانا عبدالحکیم پوپلزی په ۱۲۸۴هـ ق کال په پېښور کې زېږېدلی وو. په پېښور کې ئې له خپل پلار او نورو استاذه وو څخه د تعلیم تر بشپړولو وروسته د هندوستان له " دیوبند" مدرسې څخه تحصیلي سند واخیست. له دیوبند څخه تر فارغېدو وروسته لکهنوته ولاړ. له هغه ځایه رامپور ته وخوځېد او هورې د اجمیر شریف په "مدرسه معینیه" کې د سرمدرس په توګه وټاکل سو. څه موده ئې هورې تېره کړه او بیرته خپل پلرني ټاټوبي پېښور ته ستون سو او په پېښور کې د قاسم علیخان جومات د خطابت چارې ور وسپارل سوې او پر څنګ ئې د صوبه سرحد د "مفتي اعظم" مقام هم ورکول سو.

مولانا عبدالحکیم پوپلزی په صوبه سرحد کې د خلافت تحریک10 فعال غړی وو. ددې صوبې د خلافت تحریک د صدر وظیفه ئې هم پر غاړه وه او د وفات تر وخته پر دغه مقام پاته سو. د خلافت تحریک په هغو ورځو کې د هندوستاني مسلمانانو واقعي استازیتوب کاوه. نوموړي د صوبې علماء د خلافت په صوبايي کمیټه او جمعیت علماء


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

سرحد کي سره تنظيم کړل. د همدې فعاليتو له اسيته انګرېزي حکومت په ۱۹۲۰ع کال بندي کړ چي د حکومت ددې عمل پر خلاف په زرګونو تنو په قاسم عليخان جومات کې اعتراض وکړ.

مولانا عبدالحکيم د قرآن حافظ وو او د حج فريضه ئي ادا کړې وه. په پنځو ژبو پښتو، فارسي، اردو، عربي او هندکو ئي شعرونه ويلي ول چي له بده مرغه زياته برخه ئي د زماني سېلابونو له منځه وړې ده. نوموړي د قاسم عليخان جومات پر خطابت سربېره د پېښور ښار د عيدګاه امامت هم کاوه.

مولانا عبدالحکيم پوپلزی په ۱۸۶۵ع کال زېږېدلی او د ۱۹۳۳ع کال د مي پر لسمه = ۱۳۵۲هـ ق د محرم الحرام ۱۴مه د سهار پر اتو بجو وفات سوی دئ.11 قبر ئي د رحمان بابا په هديره کي دئ. پر وفات ئي د وخت شاعرانو مرثيې ويلي دي چي په هغو کي بيدل قريشی فاروقي پېښوري د " اشک غم" تر عنوان لاندي په پارسي ژبه درنه مرثيه ويلې ده چي د سر بيتونه او د وفات تاريخ ئي داسي دي:

آه مولانای ما عبدالحکیم
کرد رحلت شد دل عالم دونیم

قبله ارباب فضل و اهل علم
رهنمای خلق با خُلق عظیم

هادی راه هدایت بی گمان
حامی شرع متین و مستقیم

حافظ قرآن و مقبول جهان
عارف ذات خداوند کریم

.................
سال نقلش گفت بیدل هاتفم
"شد بجنت تا ابد عبدالحکیم"

وروستی نيم بيتی تاريخي ماده ده چي ابجدي قيمت ئي (۱۳۵۲هـ ق) کېږي او همدا ئي لکه پورته چي مو وليکل، په هجري قمري حساب د وفات کال دئ. په پښتو ئي هم مرثيې سته12. په پېښور کي د مولانا عبدالحکيم پوپلزي په نامه يوه کوڅه هم سته.

مولانا عبدالحکيم پوپلزي څلور لوني او شپږ زامن عبدالبصير، عبدالنصير، عبدالغفور، عبدالرشيد، عبدالرحيم، عبدالقيوم درلودل چي په هغو کي ئي يوازي عبدالرحيم او عبدالقيوم وپاتېدل نور زامن ئي يا په وړکتوب يا ځواني کي مړه سوي دي. د مولانا عبدالحکيم د وفات پر وخت دده مشر زوی مولانا عبدالرحيم پوپلزی د انګرېزي حکومت په زندان کي بندي وو ځکه نو د پلار ځايناستی دده کشر ورور مولانا عبدالقيوم پوپلزی وټاکل سو چي وروسته به پر وړغيږم.

### د لومړۍ برخي ماخذونه:

1ددې څېړني له پاره د يو لړ ماخذو په برابرولو کي جناب حفيظ الله خان کرزي لاس راکړی دئ. کورودانی ورته وايم.

2 د قصه خوانی سيمه او بازار د پېښور ډېره پخوانۍ سيمه ده او د قصه خوانی بازار د ځو تاريخي پېښو شاهد وو چي تر ټولو مهمه پېښه ئي هغه قتل عام وو چي په ۱۹۳۰ع کال انګرېزي بوځيانو د خلکو پره يوه بې وسلې غونډه باندي ګولۍ وچولې او په سوو تنه پکښي شهيدان سول. ددغي پېښي د د شهيدانو د يادوني په مناسبت په قصه خوانی بازار کي يو منار درول سوی دئ.

3 د باړې سيند سرچينه د تيراه په غرو کي ده. دا سيند د اپرېدو تر سيمو راتېرېږي او د مومندو مځکو ته رسيږي

4وګ:صفيه حليم ـ د سياست مياشت ـ ۸ مي ـ ۲۰۲۰ع


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

5 سردار محمد عظیم خان د سردار پاینده خان بن حاجي جمال خان بارکزي محمدزي زوی او د وزیر فتح خان ، تیمورقلیخان سکه ورور وو. دی تر عطامحمد خان باميزي وروسته د کشمیر واکمن او د سدوزو د پاچهی تر زوال وروسته د پېښور حاکم وو.

6داکټر عبدالجلیل پوپلزی زموږ تر بحث لاندي مولانا عبدالرحیم پوپلزي لمسی دئ.

7 وگ : پوپلزی عبدالجلیل ډاکټر. روحانیت اور عوامی تحریک، ص ۱۲، چاپ ۱۹۹۲ع پشاور د " کالا کوټ" مولف اسحق ندوی ددغه کتاب په ۳۶ مخ دغه پوپل د " پوپل خان" په نامه بللی دئ او زیاته کړې ده چي" ... پوپل خان کی تین لڑکی بارک خان، محمد خان، پائنده خان هوئی ...." دا خبره له ريښتي ناسمه ده. بارک د دراني پښتنو د ځيرک ښاخ له دروګونو قبيلو څخه یوه قبیله ده. نوري دوی ئې پوپل او الکو دي. محمد د بارک یو ښاخ دئ او پاینده خان د محمد نیکه په اولاده کي د حاجي جمال خان محمد زي بارکزي زوی دئ. دغه غلطي د مولانا عبدالرحیم پوپلزي او د هغه د کورني د نورو " سوانخ نگارانو" کتابو ته هم لار موندلې ده.

8 قاضي عبدالرحیم خان وروسته اټک ته کډه سوی دئ او ويل کېږي چي هوری ئې هم اولاده پاته ده.
9وگ: روحانیت اور عوامی تحریک، ص ۱۶

10 د لومړي عمومي جنگ په دوران کي ترکیه د جرمنیانو پر خوا وه. د هندوستان له مسلمانانو سره اندېښنه پیدا سوه چي که انگرېزان جگړه وگټي، له غثماني خلافت سره به ناوړه سلوک وکاندي. خو د انگلستان صدراعظم د هند مسلمانانو ته ژمنه وکړه چي له مسلمانانو او د هغو له مقدسو ځایو سره به بي حرمتي نه کوي او عثماني خلافت به محفوظ وي. تر جگړي وروسته انگرېزانو قول مات کړ. پوځونه ئې بصرې او جدې ته ننوتل. د هند مسلمانان په دې وعده خلافي خواشیني سول او د عثماني خلافت د ساتني په منظور ئې د " تحريک خلافت" په نامه د یوه سازمان اساس کښېښوو( ۵ جولای ۱۹۱۹ع).

11روحانیت اور عوامی تحریک، ص ۱۸

12هماغه اثر، ص ۲۱

نوربیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ